# مسیر

ورځپانه


نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۹ د سلواغې ۲۱مه | د ۲۰۲۱ د فبروري نهمه | ۶۷۸یمه ګڼه


## ځیره

۴ مخ



### ژوزه ساراماګو

ژوزه ساراماګو پر میسترۍ، کارګرۍ او ډېر ناوړه اقتصادي وضعیت سربېره بیا هم د نوبل جایزه وګټله. د هغه تر ټولو مشهور ناول (ړندېدل) دی.

# د ځواکونو حضور ته پلمې؛

## لیندسي ګراهام: طالبان د امریکا د تېر ایستلو په لټه کې دي، نو سرتېري نه وباسو



۳

امنیتي منسوبین چې د واکمنو د سیاسي لوبو لپاره قرباني کېږي

۲ مخ

د چین دودیز نوی کال

۲ مخ

د ایران د نیابتي جګړې نوې جبهه

۳ مخ

## کرنې وزارت: د میلیونونو افغانیو په ارزښت د افغانستان ۱۴ ډوله وچه مېوه کاناډا ته صادره شوې



کرنې وزارت وایي، کاناډا ته د افغانستان د وچې مېوې صادرات پیل او تازه ۱۴ ډوله وچه مېوه د ۵۰۰ زره ډالرو په ارزښت ولېږدول شوه. د دغه وزارت ویاند اکبر رستمي وایي، یاد محصولات د ځمکني ټرانسپورټ له لارې د ازبکستان او ترکیې له لارې کاناډا ته صادر شوي دي.

د رستمي په خبره، د وچې مېوې دا صادرات د راز فوډ په نوم یو خصوصي شرکت ترسره کړي دي. نوموړي زیاتوي، د افغانستان محصولات په ټوله نړۍ او په ځانګړې توګه د سیمې هېوادونو، منځنۍ اسیا، سوېلي اسیا، چین او خلیج کې ډېر او لوی مارکېټونه لري او په نږدې راتلونکي کې به یې د خلیج او منځنۍ اسیا هېوادونو ته هم صادرات پیل شي.

د کرنې وزارت د مسوولینو په وینا، هڅه کوي چې په بېلابېلو زونونو کې د وطني محصولاتو د بسته بندي مرکزونه جوړ شي، ترڅو د هېواد د صادراتي محصولاتو بسته‌بندي له نړیوالو معیارونو سره سمه وشي.

## صالح: له طالبانو سره مخامخ خبرې کول د امریکا ستره تېروتنه وه

د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح ویلي، چې افغانان روانو جګړو ستړي کړي، خو دې ته نه دي چمتو چې ځانونه دې وپلوري.

نوموړي له بي بي اېس نیوز سره په تازه مرکه کې ویلي، کله چې د ټرمپ په مشرۍ د امریکا دولت دوی له پامه وغورځول او له طالبانو سره یې په مستقیمه توګه خبرې پیل کړې، دغه کار دوی سخت حیران کړي وو.

امرالله صالح د خپلو خبرو پر دوام زیاته کړې، د ده په نظر د امریکا دا کار چې په مستقیم ډول یې له طالبانو سره خبرې پیل کړې، ستره تېروتنه وه. نوموړي که څه هم په ښکاره د بایډن ادارې له لوري د وروستیو اقداماتو په اړه څه نه دي ویلي، خو ظاهراً داسې ښکاري چې افغان حکومت د متحده ایالتونو د نوې ادارې له لوري د دوحې د هوکړې پر ارزولو خوښ دی.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا د ۲۰۲۰ ز کال په فبروري میاشت کې له اوږدو خبرو وروسته د سولې هوکړه لاسلیک کړه چې له مخې به یې د ۲۰۲۱ ز کال تر مې میاشتې پورې ټول بهرني ځواکونه له افغانستانه وځي او په بدل کې یې طالبانو ژمنه کړې چې اجازه به نه ورکوي چې د افغانستان خاوره د امریکا او د یاد هېواد د نورو متحدینو پر ضد وکارول شي او دغه راز به له افغان اړخونو سره هم د یوه ګډ او ټولشموله حکومت پر جوړېدو هوکړه کوي.

## وکیلان: تر هغې چې په مالي بودجه کې عدالت رانه شي، د تایید رایه نه ورکوو



۵ مخ

## وزارت داخله: در حادثه بهسود فرمانده پولیس میدان وردک مقصر بود، وظیفه شان به تعلیق درآمد



وزارت امور داخله می‌گوید نتیجه بررسی‌های هیأت حقیقت‌یاب نشان می‌دهد که در حادثه بهسود افراد غیرمسلح کشته و زخمی شده‌اند.

این وزارت دیروز با نشر اعلامیه‌ای گفته است که این هیأت بررسی‌هایش از حادثه بهسود را به گونه همه‌جانبه انجام داده است. براساس این یافته‌ها در تظاهرات دهم دلو ماه جاری در بهسود، افراد غیرمسلح از سوی نیروهای امنیتی کشته و زخمی شده‌اند. طبق این گفته‌ها در این حادثه ۱۱ غیرنظامی کشته و ۳۱ غیرنظامی دیگر زخمی شده‌اند. براساس این یافته‌ها، الله‌داد فدایی، فرمانده پولیس میدان‌وردک، مقصر شناخته شده و وظیفه وی از سوی وزارت امور داخله تعلیق شده است.

در این اعلامیه آمده است: «وزارت امور داخله در همین پیوند وظیفه قوماندان امنیه میدان‌وردک را به حالت تعلیق قرار داده و قضیه را به لوی‌څارنوالی محول کرده است تا در پرتو قانون موضوع به شکل اساسی بررسی و عدالت تامین گردد.» وزارت امور داخله ضمن همدردی با خانواده‌های قربانیان گفته است که زخمیان این رویداد را در شفاخانه ۳۰۰ بستر پولیس به طور رایگان درمان و به آن‌ها رسیده‌گی می کند.

این وزارت اطمینان داده است که واحدهای اداری ولسوالی‌های حصه اول و حصه دوم بهسود دوباره فعال خواهند شد تا برای مردم خدمات عرضه کنند.

پیش از این ولسی جرگه گفته بود که حکومت در تلاش است تا به حادثه بهسود صبغه سیاسی دهد و آن را به حاشیه ببرد. برخی از نماینده‌گان از ولسی جرگه خواسته بودند که هیأت جداگانه تشکیل دهد تا زوایای این حادثه روشن کند.


Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## سرليکنه

# امنيتي منسوبين چې د واکمنو د سياسي لوبو لپاره قرباني کېږي

کورنيو چارو وزارت وايي چې د وردگو د بهسودو ولسوالۍ د پېښې له امله يې د دغه ولايت د امنيه قوماندان دنده ځنډولې او لويې څارنوالۍ ته يې ور پېژندلې دی. دا کار له هغه وروسته کېږي چې يو دولتي پلاوی بهسودو ولسوالۍ ته ولاړ او هلته يې دا پېښه وڅېړله. پخوا کورنيو چارو وزارت ويلي وو چې د عليپور وسله والو کسانو د لاريون له منځه پر امنيتي ځواکونو ډزې کړې وې، چې په پايله کې يې دا پېښه رامنځ ته شوې او وژل شوي هم تر ډېره د عليپور وسله وال کسان دي.

هغه وخت داسې تصويرونه هم خپاره شوي وو چې په لاريون کې وسله وال کسان دي، خو اوس حکومتي دريځ يو مخ بدلېږي. اصلي کيسه دا وه چې د وردگو د بهسودو په دوو ولسواليو کې د عليپور سلگونه وسله وال فعال دي او هلته تل د ولسوال او امنيه قوماندان په چارو کې لاسوهنه کوي. تر پېښې وړاندې عليپور د بهسودو د ولسوال دفتر ته تللی و او د ولسوالۍ له امنيتي ځواکونو يې هم يو هاموې ټانگ، يوه رنجر او وسلې په زور اخيستي وې. د وردگو امنيه قوماندان د ځانگړو ځواکونو په مشرۍ د امنيت شورا په امر بهسودو ته ولاړ چې هم نوي امنيه قوماندانان معرفي کړي او هم له عليپور څخه بېرته دولتي تجهيزات واخلي، خو عليپور سيمه ييز خلک تحريک کړل، خپل وسله وال يې هم په لاريون کې گډ کړل، وروسته يې پر امنيتي ځواکونو ډزې وکړې او په پايله کې يې ۱۱ کسان ووژل شول او ۳۱ نور ټپيان شول. کله چې پېښې ته قومي او سياسي رنگ ورکړل شو، حکومت د پلټنو خبره وکړه، خو د پلټنو په پايله کې د دې پر ځای چې د ناقانونه وسله والو ډلو يو جنايتکاره قوماندان عليپور ملامت شي، ونيول شي او محاکمه شي، د وردگو امنيه قوماندان پړ وگڼل شو، دنده يې وځنډول شوه او څارنوالۍ ته معرفي شو چې ښايي زندان ته هم ولاړ شي.

په دې پېښه کې ښکاري چې ارگ په واضح ډول سياسي چلند وکړ. د دې لپاره چې ارگ خپل ځينې سياسي ملاتړي له لاسه ور نه کړي او د ولسمشرۍ دويم مرستيال خپه نه کړي، خپل زړور او مسلکي جنرال يې قرباني کړ. له امنيتي منسوبينو سره د ارگ دا ډول چلند نوی نه دی؛ پخوا يې هم په ځلونو همداسې کړي دي. څو کاله وړاندې هم پر يو بل همداسې جنايتکار، نظام الدين قيصاري دوه ځله عمليات وشول، چې پکې د ځانگړو ځواکونو څو سرتېري هم ووژل شول، وروسته د سياسي معاملو له مخې نه يوازې قيصاري ازاد شو، بلکې دولتي امتيازات ورکړل شول او اوس هم همغسې امتيازات ورکول کېږي.

اشرف غني او ملگري يې د خپل واک د تداوم لپاره په هر ډول ارزښتونو او ملي گټو معامله کوي. دوی د دې لپاره چې په هزاره وگړو کې سياسي ملاتړ له لاسه ور نه کړي، نو خپل امنيتي ځواکونه قرباني کوي. دا ډول پېښې به ښايي په لنډمهال کې اشرف غني ته گټه وکړي، خو پايلې يې خطرناکې دي، ځکه چې ورو ورو به دا امنيتي ځواکونه پر خپلو مشرانو او اعلی سرقومندانو لا زيات بې باوره شي او بيا به سياسي معاملې د امنيتي ځواکونو له ملاتړ پرته د ارگ واکمنان ونه شي ساتلی.

# د چين دوديز نوی کال

نقيب الله مل

د چينايانو دوديز نوی کال د ځانگړې کرنيزې جنترۍ له حساب او مهالوېش سره تړلی دی او د چيني ملت يو له ډېرو پخوانيو دودونو او د سترو عيدونو له جملې گڼل کېږي، چې د اوږدې لرغونې مخينې او تاريخي شاليد درلودونکی دی. د نوي کال عيد په چينايي ټولنه کې له ستر ارزښت څخه برخمن پاتې شوی دی، په لويه پيمانه يې د خلکو ترمنځ د نمانځنې فعاليتونه او جشنونه جوړېږي، چې له خپلو نيکونو او له تېرو پخوانيو وگړو ورته دا دود په ميراث پاتې شوی دی.

په ټولنو کې د نوي کال راتگ معمولاً له زيري راوړونکې روحيې سره پيوسته او تړلی بلل کېږي. دا په حقيقت کې د طبيعت يو طبعي سير او خاصيت دی، د روح او روان دوباره تازه کېدنه له يو نوي رنگ او پيل سره تړلې وي. د نويو هيلو غوړېدا، نوې ساه اخيستنه او تازه کېدنه مستقيماً له ځان سره راوړي او په دې توگه له تېر او زوړ کال سره مخه ښه او خدای پاماني کېږي، راتلونکي او نوي کال ته په خوښۍ هرکلی ويل دي او په ژوند کې د مثبتو بدلونونو د جوړولو او رامنځته کولو لپاره د يوې نوې او تازه انگېزې اخيستنې فرصت دی.

د چينايانو په کرنيز کليز (جنتري) کې له اوږدو مودو او زمانو راهيسې ځينې ځانگړې دوديزې ورځې ټاکلې او معلومې کړې دي، هغه چې ورته ارزښت لري. دا د ملتونو عادت او خاصيت دی چې خپلې ټاکلې ورځې او اخترونه لري او ورته اهميت لري. دا کلتوري دوديز ميراثونه خپله معنوي پانگه بولي، کوم چې د يوې انساني ټولنې پر شناخت او هويت باندې دلالت کوي.

په نړۍ کې د بېلابېلو ټولنو ترمنځ د پېژندنې او د توپير او فرق يو څرگند او مهم مورد کلتوري هويت دی چې اساس او ريښې يې په کلتوري ميراثونو او دودونو کې موندلی او ليدلی شو. په همدې اساس، بيداره ولسونه د خپلو کلتوري هويتونو د ساتنې، پالنې او جوړونې لپاره هاند، هڅې او بې دربغه هلې ځلې کوي، کوم چې دا په راتلونکې کې د کلتوري بقا، د پاينښت او ژوندي پاتې کېدو د سترې پيشتوانې په توگه کار کوي.

چين يو هغه هيواد دی چې خپل کلتور او دودونه پرې گران دي او ورته ارزښت لري. له دې ډلې يوه د دې خلکو او هيواد نامتو کرنيزه جنتري ده چې سلگونه کلونه وړاندې د نجوم د ۲۴مو برجونو پر اساس رامنځته او جوړه شوې ده. هره مياشت يې د ۳۰ ورځو د حساب درلودونکې ده، دا بيا هر درې کلونه وروسته، هغه کومه فاصله چې د ميلادي او د چين کرنيزې جنترۍ حساب ترمنځ رامنځته کېږي، له منځه وړلو لپاره يې دوه د فبروري يا دوه د اپريل مياشتې پکې رامنځته کېږي، څو د نوي کال وخت په دې شاوخوا موده کې پاتې او وساتل شي. که څه هم د چين دوديز نوی کال او د ميلادي کال راتگ او نوي کېدل د وخت او زمان له مخې سره توپير لري، خو د ۲۰۲۱ کال په حساب کې بيا دواړه جنترۍ سره برابرې او مساوي دي.

د چين لرغونې جنتري يوه ډېره جالبه او د خاصو ځانگړتياوو جنتري ده، چې له زرگونو کلونو راهيسې په ټولنه کې تر استفادې لاندې ده، لا تر اوسه هم د دوديزو ورځو په رخصتيو کې رول لري او ورڅخه استفاده کېږي، خو په رسمي اداري چارو کې يې بيا ميلادي جنتري چلېږي.

### د دوديزې جنترۍ تاريخچه

د چين د خلکو دوديزه جنتري د هغو مروجو جنتريو له ډلې يوه ده، چې له لرغونو او اوږدو زمانو راهيسې په ټولنو کې کارول کېږي، د بېلابېلو امپراطوريو سلسلو په موده کې اصلاحات او بدلونونه پکې راوستل شوي او بشپړه کړی شوې ده. د چين اوسنۍ دوديزه کرنيزه جنتري له ميلاد ۱۰۴ کلونه وړاندې د هان سلسلې د ((وو)) امپراطور د وخت ده او د نوموړي امپراطور د واکمنۍ په موده کې جوړه او رامنځته شوې ده او د تای چو په نوم باندې يادېده او تر ننه تر استفادې لاندې ده.

د چين په دوديز نوي کال کې د فولکلور اړخ او د عادتونو، د دودونو ونډه مهمه ده، پر دې اساس نوی کال او د نوي کال عيد له اهميت څخه برخمن پاتې شوی دی. په ښارونو، مارکېټونو او کورونو کې د نويو تازگيو له رنگونو ډکه فضا وي، د چمتووالي ځپه يې له ورايه معلومېږي چې مهمې ورځې او عيد را روان دی. دا نه يوازې تر لويو ښارونو؛ بلکې تر کليو، بانډو او تر لرې پرتو سيمو په ټول چين کې د ژوند د شوق او ذوق ځپې په خوځښت او حرکت کې وي. د ښارونو، کليو او بانډو په ځېرو کې بدلون د پاملرنې او جلبونې سبب وي، سړکونه، لارې، کوڅې، ودانۍ او د کورونو په دروازو باندې ملي بيرغونه، طومارونه د نوي کال او له خپل هيواد سره د خلکو د مينې او علاقې د اندازې ښکارندويي کوي.

د نوي کال راتگ چې له دوديزې جنترۍ سره تړلې دی، په دې جنترۍ کې د دوولسو حيواناتو ټاکنه او د کالونو نومونه جالبيت لري، هر يو کال د يو ځانگړي حيوان په نوم باندې يادېږي او هر دوولس کاله وروسته د دې څرخ دوران بشپړېږي او دوباره تکرارېږي. د هر حيوان د خصوصياتو په اړه د خلکو ترمنځ ټاکلې انگېرنې دي چې د هر چا شخصيتي ځانگړتياوې او خصوصيات پکې موندل کېدلی شي. د چين کرنيزې جنترۍ له مخې، سږنی دوديز کال د غويي له کال سره برابر دی او د غويي په اړه انگېرنې په چيني ټولنه کې کلک، زيارکښ، جدي، صابر، ځواکمن، جوړوونکي، کومک کوونکي، خدمت کوونکي، مسووليت منونکي او له هغو کسانو سره چې د مار او چرگ په کلونو کې زېږېدلي دي، تر ډېره موافق، جوړ او سازگاره، خو له هغو سره چې د پسه په کلونو کې زېږېدلي دي، مخالف، ضد او ناسازگاره وي. د دوولسو حيواناتو د خصوصياتو او د شخصيتي ځانگړتياوو او عادتونو په اړه اوس خبرې او انگېرنې يوې بلې ليکنې ته پرېږدم.

فولکلورونه او ولسي نکلونه تر ډېره د خلکو له انگېرنو، خيالونو، تخيل او له عادتونو جوړ او رامنځته شوي دي، چې د وخت په تېرېدو او له يوې سيمې تر بلې پکې بدلونونه رامنځته شوي دي. په دې توگه د فولکلور ونډه د هرې ټولنې په ادبياتو کې مهم او د پام وړ ځای لري. د ژونديو ولسونو انگېرنې د ژوند کيسې او خبرې دي، پر دې بنا فولکلورونو ته د ملتونو، کلتورونو، تهذيبونو د پېژندنې په حيث کتل کېږي، د يوې ټولنې د روح او روان د پېژندلو اسانه لاره د فولکلوريکو ولسي داستانونو او نکلونو پېژندنه او مطالعه ده.

غواړم د چين د دوديز نوي کال د نومونې په اړه د هغو دوولسو حيواناتو فولکوريکي کيسې پسمنظر او د نکل لنډيز دلته را واخلم. لرغوني چينايان په دې باور وو چې د هر نفر شخصيت تر ډېره له دې سره تړلی وي د کوم حيوان په کال چې زېږېدلی وي، نو تر ډېره به يې په شخصيت او کرکټر کې د هغه حيوان خصوصيات او ځانگړتياوې ځای لري چې کال د هر يو حيوان وي.

نکل دی وايي، ډېره زمانه وړاندې، کله چې اسمان او ځمکه تازه سره بېل شول، اسماني امپراطور د کالونو، مياشتو، فصلونو او ساعتونو په اړه ځينې اصول او مقررات جوړ او وټاکل، څو په دې توگه خلک خپلې چارې او د کرکيلې ترتيب په منظم ډول او په وخت تر سره کړي.

خو يوه ستونزه وه چې د خلکو تر منځ به د خپل عمر او سن کالونه گډوډېدل، مشر او کشر سره نه پېژندل کېدل، اسماني امپراطور ټول حيوانات راغونډ کړل، په دې توگه يې د يوې ازادې سيالۍ له لارې د دوی له منځه لومړی دوولس حيوانات خوښ کړل، څو د دوی د نومونو له مخې د يو منظم ترتيب له مخې جنتري جوړه کړي، د مشر او کشر معلومېدلو او پېژندلو ستونزې ته د حل لاره ومومي. کله چې د سيالۍ او ټاکنې خبر حيواناتو ته ورسېد، هر يو کوښښ او هڅه کوله چې د کال حيوان په توگه وټاکل شي او دا ستر وياړ خپل کړي.

پيشو چې کله دغه خبر واورېد، تر ټولو زيات يې د دې مقام لپاره ځان وړ او مناسب باله، خو د پيشو دا عادت چې خوب کول يې ډېر خوښ دي، دا چانس يې له لاسه ورکړ، که څه هم خپل نږدې دوست او ملگري موږک ته يې ويلي وو، گرانه ملگريه! نن د حيواناتو د ټاکنې ورځ ده، گوره ما پر وخت ويښه کړه! موږک هم دغه مقام ته زيات حوسېده، نه يې غوښتل چې په دغه فرصت کې وروسته او شاته پاتې شي يا بل سيال په څنگ کې اضافه وگوري.

رخه او بخل پرې زړور شول، پيشو يې له خوبه ويښه نه کړه او غلی په بېړه روان شو، غوښتل يې تر نورو وړاندې اسماني ماڼۍ ته ورسېږي، پيشو له سيالۍ او د ټاکنې له بهيره پاتې شوه. هغه خبره رښتيا شوه چې وايي خوبولی اوبو وړی.

ترتيب داسې جوړ او تنظيم شوی و، هر څوک که اسماني ماڼۍ ته تر ټولو مخکې او لومړی ورسيږي، امتيازونه او نومرې به په ترتيب اخلي، همدا اصل او معيار د حيواناتو د ټاکنې لپار تاييد شوی و، د هر يو حيوان کوښښ او هڅه دا وه چې تر نورو مخکې او وړاندې اسماني ماڼۍ ته ورسيږي او اول مقام تر لاسه کړي.

چالاکه موږک د غويي په غوږ کې ځان غلی کړ، په دې توگه تر ټولو وړاندې او لومړی اسماني ماڼۍ ته په ډېرې راحتۍ سره ورسېد او د غويي له غوږه يې ټوپ کړل او په دې توگه لومړی مقام يې خپل کړ. د غويي دويم مقام په نصيب شو. د پړانگ درېيم مقام شو. د سوی څلورم مقام شو. ښامار ناوخته ماڼۍ ته ورسېد، خو له دې امله چې د چرگ تاج يې په سر و، ښکلی ښکارېده، نو اسماني امپراطور ښامار ته پنځم مقام ورکړ. مار هم ناوخته ماڼۍ ته ورسېد، خو له دې امله چې له ښامار سره يې ورتوالی درلود، مار ته شپږم مقام ورکړل شو. د اس او پسه ښه دوستي او ښو اړيکو له امله اس ته اووم مقام او پسه ته اتم مقام ورکړل شو. شادي (بيزو) ډېره ورخطا او ناکراره وه، د اسماني امپراطور لخوا شادي ته نهم مقام ورکړل شو. چرگ د خپلو ښکلو او ښايسته بڼکو او په سر باندې تاج له امله ځان ورته پاچا ښکاري، خو دا چې تاج يې نه و او هغه يې ښامار ته ورکړی و، لسم مقام ورکړل شو. سپي او سرکوزي چې دا دواړه له کوم ځانگړې توان او وړتيا برخمن نه وو، نو په دې توگه اسماني امپراطور سپي ته يوولسم مقام او سرکوزي ته يې دوولسم مقام ورکړ.

اسماني امپراطور ټاکل شوي ټول حيوانات د کال پېژندنې له ننبو سره يو ځای او معرفي کړل، ياده ستونزه حل شوه، په اسانه د کال د ځانگړي حيوان له مخې مشر او کشر، د افرادو عادتونه، ځانگړتياوې معلومې او پېژندل کېږي.

همدارنگه دغه دوولس حيوانات ته د ورځې او وخت د ټاکنې نښې هم دي، موږک د پرون يا د تيرې شپې له ۱۱ بجو څخه د ساعت او وخت د بدلون د سهار وختي تر يوې بجې پورې موده او وخت دی. غويی، د سهار وختي له يوې بجې څخه تر ۳ بجو پورې وخت دی. پړانگ، د سهار وختي له درېو بجو څخه تر پنځو بجې پورې وخت دی. سوی، د سهار له ۵ بجو تر ۷ بجو پورې وخت دی. ښامار، د سهار له ۷بجو تر ۹ بجو پورې وخت دی. مار، د سهار له ۹ بجو تر ۱۱بجو پورې وخت دی. اس، د ورځې له ۱۱بجو د غرمې تر يوې بجې پورې وخت دی. پسه، د غرمې له يوې بجې تر ۳ بجو پورې وخت دی. شادي (بيزو)، له غرمې وروسته ۳ بجو څخه تر ۵ بجو پورې وخت دی. چرگ، د مازديگر له ۵ بجو څخه تر ۷ بجو پورې وخت دی. سپی، د ماښختن له ۷ بجو څخه تر ۹ بجو پورې وخت دی. سرکوزی (خوگ)، د شپې له ۹ بجو څخه تر ۱۱بجو پورې وخت دی.

د کالونو لپاره د دوولسو حيواناتو د ټاکنو بهير تر بشپړېدو وروسته د ځينو يو له بل سره دښمني هم پيل او وپارېده، دا چې موږک له پيشو سره لويه ناځواني کړې وه او له خوبه يې نه وه ويښه کړې، اوس چې کله د پيشو پر موږک سترگې ولگې، سمدلاسه پرې بريد کوي.

د ښامار ناځواني له چرگ سره او د امانت نه ورکول يې، دا چې چرگ خپل تاج ښامار ته امانت ورکړی و، ښامار بېرته په ورکولو او سپارلو کې ټگي او بې وفايي کوله، اوس چې سهار چرگ بيداره شي تر ټولو لومړی کار يې په لوړ اواز دا ناره وي، هی ناځوانه ښاماره! زما تاج راکړه- زما تاج راکړه. دا د دوولسو کالونو د ننبو لپاره د دوولسو حيواناتو د ټاکنې په اړه د چين د خلکو دوديزه کيسه ده.

د دغو حيواناتو ټاکنه د دوی له عادتونو سره سمه شوې ده، موږک معمولاً د شپې له ۱۱ بجو څخه د سهار وختي تر يوې بجې پورې څوس وهي او خوراک پسې گرځي. غويی معمولاً د سهار وختي له يوې بجې څخه تر دريو بجې پورې وخت کې شخوند کوي. د پړانگ د خوراک او ښکار وخت معمولاً د سهار وختي ۳ بجو څخه تر ۵ بجو وخت کې وي. سوی د سهار له ۵ بجو څخه تر ۷ بجو پورې وخت کې بيداره او فعاله وي، په دې وخت کې سپوږمۍ معمولاً په اسمان کې وي، د چين په ولسي افسانو کې ويل کېږي چې يوه سپينه سويه په سپوږمۍ کې ژوند کوي. ښامار، معمولاً د سهار له ۷ بجو څخه تر ۹ بجو پورې وخت کې بيداره او فعاله وي، له اسمانه اورښتونه کوي. مار، معمولاً د سهار له ۹ بجو څخه تر ۱۱ بجو موده کې ښکار او خوراک کوي. اس، د ځغاستې ښه وخت معمولاً له ۱۱ بجو څخه تر يوې بجې پورې دی. پسه، معمولاً د غرمې له يوې بجې تر ۳ بجو پورې د څرېدلو او څښاک ښه وخت دی. بيزو، له غرمې وروسته له ۳ بجو څخه تر ۵ بجو پورې وخت کې په ونو کې ټالونه وهي. چرگ، د ماښام له ۵ بجو څخه تر ۷ بجو پورې کله چې لمر لوېږي او ډوبېږي، ځان لوړو او خوندي ځايونو ته رسوي. سپی، له ۷ بجو څخه تر ۹ بجو پورې موده کې معمولاً څک او بيداره وي، د ساتنې دنده تر سره کوي. سرکوزی (خوگ)، معمولاً د شپې له ۹ بجو تر ۱۱ بجو پورې موده کې خوب کوي، په دې توگه يوه ورځ او شپه تېره او بشپړېږي.

په افغانستان کې هم د کالونو لپاره د حيواناتو نومونو شته او ټاکل شوي دي، خو نيوهېرم چې زموږ د کالونو لپاره د حيواناتو د نومونه ټاکنه د څه بر اساس شوې ده، داسې ده لکه په چين کې د کلونو په څېر او يا که ورسره فرق لري؟ په دې اړه د خلکو ترمنځ څه دوديزې کيسې او نکلونه شته؟ په دې اړه او برخه به هم په راتلونکې کې خبرې او معلومات وړاندې شي.



# د ایران د نیابتي جګړې نوې جبهه

مرسلین ارسلا

**لومړۍ برخه:**

په ۲۰۰۱ کال کې پر امریکا د سپټمبر د ۱۱مې له بریدونو وروسته، متحده ایالاتو راتلونکي لس کاله د «تروریزم عصر» په نوم یاد کړل، خو پر عراق د امریکا له برید او په منځني ختیځ کې د لویو امنیتي پیښو او په دغو پیښو کې د امریکا له ښکېلېدو سره، ظاهراً دا عصر تر ۲۰۱۰ او ۲۰۲۰ کال هم واوښت. واشنګټن په منځني ختیځ کې ټولې پوځي- امنیتي معادلې سره تړلې بولي او د دغو معادلاتو د حل لپاره یې د لوی منځني ختیځ (Great Middle East) په نوم یوه سیمه بېله کړې، چې افغانستان هم په دغه پوځي- امنیتي جغرافیې کې شامل دی او متحده ایالات هر پنځه کاله دې سیمې ته یوه ځانګړې پوځي ستراتیژي جوړوي.

که څه هم افغانستان له جیوپولټیک او جیو اکونومیک اړخه کله په منځنۍ آسیا او کله هم په جنوبي آسیا پورې تړل کیږي او ډېر کله بیا پخپله افغانان افغانستان یوه بېله جغرافیا او د آسیا زړه په نوم یادوي، خو د منځني ختیځ له امنیتي وضعیت څخه د افغانستان متاثره کېدو ته په کتو، د امریکا متحده ایالاتو دا کرښې ایستل تر ډېره بریده د قناعت وړ دي، چې افغانستان په لوی منځني ختیځ کې ور شامل کړي.

د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴مو کلونو تر منځ چې کله د عراق او شام اسلامي دولت (داعش) ډلې په منځني ختیځ کې سر راپورته کړ، په افغانستان کې هم ورته جریانونه رامنځته شول، خو د دغو جریانونو په اړه د افغان دولت او نړیوالو متحدینو استخباراتي ادارو دریځ دا و، چې د منځني ختیځ داعشیانو او افغانستان کې تور پرچمو جریانونو تر منځ هیڅ راز اړیکه او ورتهوالی نشته، خو په هند کې د ۲۰۲۱ کال د جنوري په ۲۹مه د اسراییلو سفارت مخته چاودنه، چې اسراییلو په ایران پورې تړلې او جیش الهند ډله پکې په لاس لرلو تورنه شوې، په پاکستان کې د زینبیون جنګیالیو مشکوک فعالیتونه او د پنځو زینبیون جنګیالیو نیول کېدل او د افغانستان په مرکزي سیمو کې د ځینو مشخصو ډلو له لوري د افغان دولت د وسلهوال ځواک پر وړاندې د تېرو دوو اونیو تحرکات ښیي چې حتی په منځني ختیځ کې د داعش ضد جبهې جریانونه په سیمه کې پراخ شوي او د یوې مذهبي ایډیالوژۍ د بقا او ګټو لپاره سر راپورته کوي.

**فاطمیون؛ له سوریې تر افغانستانه**

فاطمیون لوا چې ریښې یې ۱۹۸۰یمو کلونو ته ورګرځي او په لومړیو کې د محمد قواوو او ابوزر کنډک په نومونو یې فعالیت درلود، په تېرو څلوېښتو کلونو کې هیڅکله په بشپړه توګه د ایران اسلامي انقلاب له پوځي تشکیلاتو نه ده ایستل شوې او د عراق- ایران جګړې، د افغان- شوروي جګړې، د طالبانو او متحدې جبهې تر منځ کورنۍ جګړې او د بشارالاسد رژیم د بقا په څیر لویو اهدافو کې کارول شوې او ساتل شوې.

په ۲۰۱۹ کال کې کله چې د سوریې د جګړې اور په کمېدو و، په فاطمیون لوا کې د جنګېدونکو افغانانو شمېر له ۱۵۰۰۰ تر ۲۰۰۰۰ جنګیالیو ته رسیده. کله چې د جمهور رییس ټرمپ اداري (۲۰۱۶ – ۲۰۲۰) په ۲۰۱۹ کال کې له سوریې څخه د امریکایي عسکرو د وتلو امر وکړ، نو ایران هم په سوریه کې خپل پوځي- استخباراتي حضور راکم کړ، خو تهران له ۱۹۸۰یمو کلونو راهیسې هیڅکله له یوه بهرني پوځي ماموریت وروسته خپل بهرني نیابتي جنګیالي خپلې خاورې ته نه دي ستانه کړي، بلکې یا یې د هغوی تشکیلات راکم کړي او یا یې هم کوم بل ماموریت ته استولي دي؛ ځکه د ایران سیاسي نظام په کافي اندازه بې ثباته او د بهرني عامل له نفوذه متاثره دی.

د افغانستان د ملي امنیت اداري پخوانی رییس رحمت الله نبیل په دې باور دی، چې له دغو ۲۰ زرو فاطمیون جنګیالیو، دوه نیم تر درې زرو هغه له ۲۰۱۹ کال وروسته افغانستان ته ستانه شول، خو د افغانستان د مسایلو په باب پېژندل شوي غربي محقق، انتونیو ګیستوزي دا شمېر ۴۰۰۰ یادوي او د څېړنو په پایله کې یې موندلې چې ډېری دغه جنګیالي د افغانستان په مرکزي سیمو، بلخ او هرات ولایتونو کې ځایپرځای شوي او د راتلونکي ماموریت د پیل لپاره د ستراتیژیک سکوت دوره تیروي.

د فاطمیون له قوماندانانو سربېره چې کلونه کیږي د ایران په کردستان ولایت کې په پوځي اډو کې پراته دي، د دغې لوا تازهدمي جنګیالي په ۲۰۱۳ کال کې سملاسي د افغان کارګرو له منځه د ایران له ښارونو جلب و جذب او یا هم د حبس د بښلو په بدل کې د ایران له زندانونو آزاد او سوریې ته واستول شول. دغه جنګیالي په سوریه کې د بشارالاسد حکومت د پوځ په کمپونو کې د وسلې د استعمال په برخه کې له دوو اونیو روزنې وروسته، ظاهراً په سوریه کې د مذهبي ځایونو د امنیت ساتنې په هدف دغو سیمو ته واستول شول. د پوځي روزنې په دغو کمپونو کې تر ډېره روسي روزونکي، په ځانګړې توګه د روسیې ځانګړي ځواکونه او د واګنر روسي امنیتي کمپنۍ قراردادي روزونکي د جنګیالیو پر روزنه بوخت وو. د ایران پوځي- استخباراتي قوماندانانو د فاطمیون جنګیالیو ته ځکه د باور وړ او راز ساتونکي ځواک په سترګه نه کتل، چې دوی د مادي مزد او یا د جبر له مخې د حبس د بښلو په بدل کې جګړې ته غاړه ایښې وه. له ځانګړو قوماندانانو پرته، فاطمیون جنګیالیو اجازه نه درلوده چې په حلب، هما، لاذقیه، دمشق او حُمس ښارونو کې د ایران انقلاب ساتونکي ځواک (سپاه پاسداران) لویو کمپونو ته ورشي، بلکې د دغو ښارونو مذهبي ځایونو ته نږدې په وړو کمپونو کې ځایپرځای وو. د فاطمیون لوا غړي ډېر کله ان د ایران انقلاب ساتونکي ځواک له سترګو پناه د روسي ځواکونو له لوري د پیسو په بدل کې د روسیې په ګټه په ځینو پوځي فعالیتونو کې کارول کیدل، خو دا د فاطمیون لپاره له تلفاتو ډک ماموریت و، ځکه روسانو له دغو جنګیالیو څخه د امریکایي اهدافو پر وړاندې استفاده کوله؛ خو دې پټو اړیکو د فاطمیون ټیټ پوړو جنګیالیو او مسکو تر منځ نوي اتحاد ته هم لاره پرانیسته او هغه د افغانستان د جګړې جبهه وه.

د ۲۰۲۰ کال په لومړیو کې امریکایي رسنیو د ځینو استخباراتي سرچینو په حواله وویل، چې د طالبانو د نفوذ په سیمه کې ځینو جنګیالیو له روسیې څخه د پیسو د تر لاسه کولو په بدل کې امریکایي پوځیان وژلي او پر امریکایي اهدافو یې بریدونه کړي. دا بریدونه تر ډېره د افغانستان په شمال کې د بلخ په ګاونډیو ولایتونو کې شوي وو، چیرته چې د ګیستوزي د څېړنو پر اساس، ډېری فاطمیون جنګیالي ځایپرځای شوي. له ۲۰۱۴ کال وروسته د روسیې استخباراتو هم په دغو سیمو کې خپل نفوذ پراخ کړ، ځکه د مسکو ادعا دا وه چې داعش جنګیالي د افغانستان له ختیځه شمال ته د تګ په حال کې دي او د روسیې د بې ثباته کولو اجنډا پر مخ وړي.

**دوام لري...**

# د ځواکونو حضور ته پلمې؛

## لیندسي ګراهام: طالبان د امریکا د تېر ایستلو په لټه کې دي، نو سرتېري نه وباسو



په امریکا کې د نوي حکومت له راتګ سره سم، په افغانستان کې د سولې د روان بهیر په اړه هم اندېښنې ډېرې شوې دي. تر څنګ یې داسې راپورونه او تحلیلونه خپاره شول، چې ښایي امریکا خپل سرتېري له افغانستان څخه و نه باسي او د بایډن اداره به په دې برخه کې د ټرمپ د تګلارې مخالفت وکړي.

اوس تازه یوه مخکښ امریکایي سناتور هم ویلي، داسې ښکاري چې بایډن به خپل سرتېري په مې میاشت کې و نه باسي. د ده په وینا، طالبانو پر خپلو ژمنو عمل نه دی کړی، نو ښایي د سرتېرو ایستل په شرایطو پورې وتړل شي. طالبانو بیا وار د مخه د امریکایي ځواکونو د پاتې کېدو په صورت کې د جګړې خبرداری ورکړی دی.

د دوحې د هوکړې پر بنسټ ټاکل شوې وه چې طالبان به له افغان حکومت سره مخامخ خبرې پیلوي او په افغانستان کې به د تاوتریخوالي کچه ټیټېږي، ورسره جوخت به امریکایي عسکر له افغانستان وتلو ته ادامه ورکوي، تر دې چې د مې په میاشت کې به په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو حضور صفر ته راښکته کېږي، خو اوس داسې ښکاري چې نه طالبانو پر ژمنو عمل کړی او نه هم امریکا غواړي چې پر خپلو ژمنو عمل وکړي.

تازه امریکایي سناتور لیندسي ګراهام هم ویلي چې امریکایي ځواکونه به تر مې میاشتې وروسته هم په افغانستان کې پاتې شي. ددغه امریکایي سناتور په خبره، د بایډن اداره په افغانستان کې د بیا ځلي حضور په اړه تحلیلونه کوي او هڅه کوي له طالبانو سره شوې هوکړه و ارزوي او دا روښانه کړي چې دغه ډلې څومره پر خپلو ژمنو عمل کړی دی.

د ده په خبره، د بایډن د حکومت او د امریکا د بهرنیو چارو وزیر دا تګلاره یې خوښه ده او ملاتړ یې کوي. ګراهام په خپله تازه مرکه کې ویلي، دی ډېر خوشاله دی چې د بایډن اداره داسې یوه مقعوله پربکړه کوي. د ده په خبره: «زه فکر کوم موږ به تر مې میاشتې وروسته له افغانستان را و نه وځو، موږ به د شرایطو تر ښه کېدو هلته وو».


ګراهام همدا راز تور پورې کوي، چې ګواکې طالبان د امریکا د تېر ایستلو په لټه کې دي. د ده په خبره، طالبانو هغه شرایط نه دي عملي کړي، چې د دوحې په هوکړه کې راغلي وو. ګراهام ویلي: «فکر کوم طالبان موږ تېر باسي. دوی شرایط نه دي رعایت کړي، نو ځکه زه د هغه کار ملاتړ کوم چې بلینکن او د بایډن اداره یې ترسره کوي».

دغه جمهوري غوښتونکي سناتور ویلي چې امریکا په هېڅ صورت خپلې لاس ته راوړنې په افغانستان کې په سیند نه شي لاهو کولی. هغه ویلي، امریکایي ځواکونه باید لومړی ډاډ تر لاسه کړي چې پلان یې اغېزناک دی او تر هغه وروسته دې له دغه هېواد د وتلو په اړه پرېکړه وکړي. د ده په وینا: «موږ باید خپل بیا ځلي حضور و ارزوو، موږ به د خپلو سرتېرو شمېر کم کړو، خو د لاسته راوړنو ساتنه هم زموږ دنده ده».

لیندسي ګراهام داسې مهال دغه څرګندونې کوي، چې تر دې وړاندې طالبانو په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د پاتې کېدو په تړاو خبرداری ورکړی و. دغې ډلې ویلي وو، چې که امریکایي ځواکونه له هوکړې سره سم له افغانستان و نه وځي، نو د طالبانو له خونړیو بریدونو سره به مخ شي. بلخوا افغان حکومت هم بیا تر دې وړاندې ویلي وو چې افغان ځواکونه له خپلې خاورې د دفاع وړتیا لري، خو ښه به وي چې بهرني ځواکونه د نړیوالې ترهګرۍ پر وړاندې مبارزې ته ادامه ورکړي.

افغان حکومت هم له امریکا په تازه اقدام کې غوښتي چې د سولې پر هوکړه بیا کتنه وکړي او وګوري چې وسله وال طالبان څومره پر خپلو خبرو ولاړ دي. د بهرنیو چارو زویر حنیف اتمر تازه په کابل کې د امریکا د سفارت له شارژدافیر سره په لیدنه کې دا موضوع مطرح کړې او ټینګار یې کړی چې د هوکړې پر بیا کتنه کې افغان حکومت له امریکا سره همکارۍ ته تیار دی.

# بایډن: که ایران مو شرطونه ومني، د ۲۰۱۵ز کال له شوي اټومي تړون سره یوځای کېږو



د امریکا ولسمشر جو بایډن ویلي چې په مشروط ډول له ایران سره د ۲۰۱۵ز کال له شوي اټومي تړون سره یوځای کېږي.

بایډن زیاتوي، تر هغو چې ایران د ۲۰۱۵ز کال د اټومي تړون د بیا اُحیا کېدو لپاره د خبرو مېز ته راونهګرځي، واشنګټن به پر تهران لګول شوي بندیزونه لغوه نهکړي.

بایډن د امریکا له سي بي ایس ټلوېزیون سره مرکه ویلي، دوی هیله من دي چې ایران به د یورانیمو د غني کولو اوسنۍ کچې راټیټه کړي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د ایران ستر مذهبي مشر ایاتالله علي خامنهیي په مشروط ډول هغو ژمنو ته د بېرته ورګرځېدو خبره ورکړې چې یاد هېواد د نړۍ له قدرتونو سره د ۲۰۱۵ز کال په اټومي تړون کې کړې دي. خامنهیي ویلي، که امریکا غواړي چې ایران بېرته هغو ژمنو ته ور وګرځي، چې د اټومي تړون په چوکاټ کې یې تر پښو لاندې کړي، نو امریکا باید ټول بندیزونه لغوه کړي.

د خامنهیي له دغو څرګندونو وروسته د ایران د بهرنیو چارو وزیر محمد جواد ظریف د امریکا له سي اېن اېن ټلوېزیون سره په خبرو کې وویل، د واشنګټن لهخوا د لګول شویو بندیزونو له امله له متحده ایالتونو څخه د تاوان ترلاسه کول د اټومي تړون د بېرته احیا کېدو لپاره یو شرط نهدی.

ظریف تر دې مخکې له یوې امریکایي ورځپاڼې سره په مرکه کې له واشنګټن غوښتي وو چې له اټومي تړون سره د بېرته یوځای کېدو لپاره دې سمدستي اقدام وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا مخکیني ولسمشر ډونالډ ټرمپ د ایران او د نړۍ د شپږو قدرتونو ترمنځ له شوي تړون څخه خپل هېواد په ۲۰۱۸ز کال کې و ایست او پر تهران یې بېرته بندیزونه ولګول. تهران هم په تدریجي ډول د دغه تړون ځینې ژمنې تر پښو لاندې کړې او ویې ویل چې نور به دغه تړون ته ژمن پاتې نه شي.


## د کتاب خبرې

# د جاسوسۍ پېښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسدوراني او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

## څلورمه برخه

### کابوکي




سپنها: «ریاض کهو کهر» چې یو جنگ‌طلب انسان و، د ډیلي په ورځپاڼو کې به یې خبرې په لویو عنوانونو او رنگه عکسونو خپرېدلې.
دولت: په ډیلي کې یې د سفیر او د کاکاخېل په نوم د مرستیال سفیر ښه جوړه درلوده.
دوراني: شفقت کاکاخېل.
دولت: دی په ډیلي کې ډېر ښه لوبغاړی و، هر ځای به لیدل کېده.
دوراني: بالکل، تکړه ډیپلومات و. زه چې په آلمان کې فرهنگي اتشه وم، ده هم دغلته په سفارت کې کار کاوه. ښه لیکوال و، مثبت‌گرا دی او بلکې د ښو اړیکو پلوی دی، خو که د مرستیال سفیر په توگه یې باید خپل مسئولیت ترسره کړی وای، نو ښه به یې ترسره کړی وي.
دولت: تر خپل مسئولیت یې ډېر کار وکړ!
دوراني: مطلب مو دا دی چې دی به له سفارته ووت او له نرمو اهدافو سره به یې کتل؟
سپنها: تاسو مخکې وویل چې ډیپلومات که هر څومره هم فعال وي، پر استېبلیشمنټ زورور کېدای نه‌شي.
دوراني: مانې ډېکشېت د سیمې ښه غوښتل، خو ډېر پاتې نه‌شو، کارونه یې نیمگړي پاتې شول. په ۲۰۰۴م کې د پگواش کنفرانس پر مهال چې مو سره وکتل، ده وویل؛ زه اوس له کانگرس سره یو ځای شوی یم، که کانگرس ټاکنې وگټي نو چارې به تر پخوا ډېرې شي. کانگرس ټاکنې وگټلې او دی د ملي امنیت سلاکار شو. ده ویل چې اوس نو د اړیکو د ښه‌والي سیل کوئ، زموږ هر غبرگون هم ښه و، چې لامل یې خپله مشرف و. دی چې ومړ، نو اړیکې هم سړې شوې.
همدرانگه شیو شنکر مېنون په اسلام‌اباد کې د سفارت پر مهال د اړیکو ښه کېدو ته کار کاوه، په اسلام‌اباد کې یې نوم ایستلی و. دی چې بېرته هند ته روان و او د بهرنیو چارو وزیر کېده، نو ویل یې چې د اړیکو رغول نو اوس ما ته پرېږدئ، گورم چې له لاسه مې څه کېږي.
سپنها: سږ (۲۰۱۷) د ملگرو ملتونو په کلنۍ غونډه کې پاکستان او هند یو په بل پسې ډېر څه وویل، عکسونه یې وښودل او داسې نور. دا ډېره عجیبه ده چې موږ هر کال د نړیوال ستېج پر سر پر یو بل برید کوو.
دولت: هر کال نه وي، خو سږ مو بیا پیل کړه.
سپنها: د دغسې چلند موخه څه وي؟
دولت: د چیغې زور، نړیوال ستېج او زیات خبري پوښښ. موږ مېز په زوره ووهو، وایو چې دوی دغسې کارونه کوي او بیا دوی ستېج ته راشي تر موږ لا مېز په زوره ووهي او وایي چې دوی دغسې دغسې کارونه کوي. دا کار هغه مهال کېږي چې تاسې له یو بل سره سترگو په سترگو کېدل نه غواړئ او خبرو ته سره نه کښېنئ. د خبرو اترو نه کولو پایله همدا ده. په ژنیو کې هم ورته کار کېږي، خو هغه ډېر خبري پوښښ نه ترلاسه کوي. که موږ خبرو ته سره کښېنو، نو دا کارونه بیا نه کېږي؛ دغه کارونه نمایشي دي او له ناامیدي کېږي.
ما پاکستاني ملگرو ته څو ځلې ویلي دي، تاسې چې د کشمیریانو د کړاوونو او له بشري حقونو د سرغړاوي خبرې کوئ، نو زه به یې د کشمیریانو د ملاتړ په پار وزغمم. خو که تاسې د ۵۰۰۰ کلونو جگړې خبره کوئ، یا د ملگرو ملتونو د حل لارو خبره کوئ، نو څوک به مو خبرې ته غوږ ونیسي؟ آن کشمیریان لا وایي چې پاکستان زموږ په تړاو جدي نه‌دی، ځکه دغه خبرې لا پخوا هېرې شوې دي. نو اوس بیا دغه خبرې ولې راپورته کوئ؟ جنرال احسان چې مې په لندن کې ولید، ورته و مې ویل چې دا لفظي لانجې ولې کوئ؟ ځکه که د «شملې» سرمشریزې ته ور وگرځو، بوټو او مېرمن گاندي پر دې هوکړه کړې وه چې مسایل که هر څه وي خو د کشمیر ډېره برخه به دوه اړخیزه مېشت وي. ملگرو ملتونو ته د نه تللو یو بل دلیل همدا دی.
سپنها: خو اصلي خبره دا ده چې که خبرې اترې نه کېږي، نو دغسې کارونه به پېښېږي.
دولت: صېب، زه به له تاسې یوه پوښتنه وکړم، ما او تا چې سره وینو او یا زموږ له ډلې څوک سره ویني، تر ډیپلوماټانو مو خبرې ډېر نرمې وي، دا ولې؟ له پاکستانه په رښتیا دا پوښتنه کوم، مطلب مې دا نه دی چې گواکې زموږ ډیپلوماټان ډېر تکړه دي. ډیپلوماتان ولې تر پوځیانو او یا استخباراتي مامورینو ډېر جنگ‌طلب وي؟ دې خبرې خو زه گنگس کړی یم.
دوراني: ډیپلوماتان د خپلې دندې تر پایه ژوولې خبرې کوي، ځینې خبرې پټوي، مسألې مبهمې او نامهمې کوي، دغه د دوی دنده ده.یو چا ته دومره غوسه وي چې وینه یې وځښي، خو د دې کار اجازه ورته نشته. ده ته ویل شوي وي چې که پر چا زهر ځښي، نو په گوړه کې دې ورته ولړې، خواږه یې دې کړې او بیا دې پرې وځښي. که یو څوک د اور لمبو ته ور غورځوي، نو په داسې ژبه دې ورته ووایي چې دغه کس پخپله خوښه او رضا د اور لمبو ته ور روان وي.
زموږ د مسلک خلک هم د دندې پر مهال د زور پلویان وي، د هوایي بمباریو، د اټومي وسلو د استعمال او نورو. خو چې دنده پرېږدي، بیا ورته د دې کار د بېې اندازه ور معلومه شي. بیا د خپلو کړیو کارونو پته ولگېږي. تداوم یې بې ځایه کار دی.

**دوام لري...**

# ژوزه ساراماگو

◀ شفیق امیرزی



ژوزه ساراماگو د پرتگال مشهور لیکوال او د نوبل گټونکی دی. نوموړی داسې لیکوال دی چې په نړۍ کې یې د نوبل د گټلو له امله خلک حیران کړل. هېچا گومان نه کاوه چې یو مستري او کاریگر ځوان دې دومره پیاوړی شي، چې د نوبل جایزه وگټي. هغه له عادي کاریگرۍ دومره پیاوړی او مشهور شو چې د نوبل تر جایزې ورسېد. دی د کمونیست گوند غړی و، خو تر ټولو مهمه ځانگړنه یې دا ده چې هېڅ وخت یې خپل اثار د دې گوند د مفکورې په واک کې ور نه کړل. هغه تخیل او واقعیت دومره نږدې سره وتړل چې لوستونکي یې د واقعیت او خیال ترمنځ پر تفکیک حیران کړل. د هغه مشهور اثر ړندوالی یا (Blindness) دی.
ژوزه ساراماگو پرتگالی لیکوال دی چې د ۱۹۲۲ کال د نومبر په شپاړسمه زیږېدلی دی. هغه د یوه بزگر په کور کې وزیږېد. کورنۍ یې د لیسبون په شمال کې په واړه کلي کې اوسېده. دوه کاله وروسته یې دی هم له کورنۍ سره یو ځای لیسبون ته راغی. دی په یوه بې وزله کورنۍ کې زیږېدلی و، د زده کړو د بشپړولو مالي وړتیا یې نه لرله، د اقتصادي ستونزو له امله یې ښوونځی په نیمایي کې پرېښود. ده د زده کړو پر ځای کار او کسب ته مخه کړه. بیا یې آهنگرۍ، مستریتوب، کارگرۍ او روزمزدۍ ته مخه کړه. هغه د بې وزلۍ له امله دا ټولې لارې چارې و ازمویلې او یوازینی هدف یې د ژوند تېرول او یوې گولې ډوډۍ پیدا کول وو. وروسته وروسته یې د پرتگال له کمونیست گوند سره اړیکې پیدا کړې. بیا په همدې گوند کې له نشراتي برخې سره یو ځای شو. هلته یې په نشریو او چاپي رسنیو کې فعالیت کاوه. همدلته یې په شخصي توگه هم لیکنې پیل کړې او د کتابونو په پنځونه یې پیل وکړ. لومړنی کتاب یې روښنایي نومېده. بیا یې د گناه د هېواد په نامه یو ناول په ۱۹۴۷ کال کې چاپ کړ. دا کتاب د خلکو له دومره هرکلي سره مخ نه شو. ده ته یې هم کومه گټه و نه کړه او ناشر هم د دې کتاب له خپراوي دومره خوښ نه و؛ ځکه په بازار کې له هرکلي سره مخ نه شو او نه یې مادي عایدات لرل. دا مسئله د دې لامل شوه چې ساراماگو د اوږدې مودې لپاره له لیکوالۍ سره مخ ښه وکړي او لیکل ودروي. هغه د اوږدو کلونو یانې د نږدې څلوېښتو کلونو لپاره له ناول لیکنې لاس په سر شو. تر دې چې په ۱۹۸۲ کال کې یې د بالتازار او بلموندا کتاب خپور کړ. د دې کتاب انگلیسي ژباړه یې هم په ۱۹۸۸ کال کې چاپ کړه. له همدې وروسته شهرت او ویاړونو د ساراماگو د بخت ور وټکاوه.
ژوزه داسې لیکوال دی چې که یې په اړه د معلوماتو پلټنه کوی، نو د کاریگرۍ نوم ارومرو ورسره لیدلی شی. ارومرو به ورسره لیکلي وي، هغه کاریگر چې د نوبل گټونکی شو. موږ وویل چې ژوزه سخت ژوند درلود، له اقتصادي ستونزو کړېده، نو له همدې امله یې کاریگرۍ ته مخه کړه او د خپلې کورنۍ د چلولو لپاره یې د زده کړو پر ځای کار غوره کړ؛ خو وروسته وروسته یې همت له لاسه ور نه کړ او په دې بریالی شو چې له خپل استعداد سره سم قلم وچلوي او له کلونو لیکنو او پنځونو وروسته بشر ته دا ثابته کړي چې استعداد یوازې د زده کړو او لوړو تعلیماتو لرل نه دي، بلکې استعداد پالل غواړي او پر هغه زیار او کار انسان بریا ته رسوي.
دغه تکړه پرتگالی لیکوال تر اوولس کلنۍ په لانزاروته جزیره کې اوسېده. هغه په ۱۹۳۳ کال کې دې جزیرې ته لېږدېدلی و؛ ځکه هغه وخت د محافظه کار حکومت پر ضد یې په سیاسي فعالیتونو کې لاس درلود، نو له همدې امله دې جزیرې ته راغلی و او له خپلې اسپانوۍ مېرمنې سره دلته مېشت و. لومړنی ناول یې لکه مخکې مو هم چې یادونه وکړه په ۱۹۴۷ کال کې خپور کړ. د گناه هېواد نومېده. په دې اثر کې د لیکوال ځانگړی سبک وینو، هغه په لیکنو کې نښانې او سمبولونه کارولي دي، اوږدې جملې یې کارولې دي، د ډیالوگونو ترمنځ یې لږ گډوډي موجوده ده، خبرې یې واضح نه دي، په ځینو مواردو کې ان دا نه ښکاري چې کومه جمله کوم کرکټر ویلې ده. له همدې امله د ژوره دغه ناول د خلکو له هر کلي سره مخ نه شو. یو لامل یې دا و، چې په سمبولونو د چا سر نه خلاصېده. لوستونکي نه غوښتل ځان ته د سر درد پیدا کړي. بل دا چې اوږدې جملې له لوستونکي د لارې د ورکېدو سبب گرځېدې. د ډیالوگونو ترمنځ ابهام هم هغه ستونزه وه چې د دې کتاب د لږ پلورل کېدو او ناکامېدو سبب شوه.
د ژوزه په اړه یوه بله خبره دا ده چې هغه په خپلو خبرو کې تل له کنایه ډوله الفاظو استفاده کړې ده. هغه په خپلو خبرو کې په پټه ډېر ترخه حقایق بیانوي. کله کله د ټولنې وگړو ته سپکاوی کوي، په دې مانا چې د ځینو خویونو له امله یې دوی رټي. دی په دې توگه د لوستونکي ذهن له تخیلي نړۍ د اوسنۍ او محسوسې نړۍ واقعیتونو ته راگرځوي. له همدې امله ده چې ځینې نقادان هغه د جادویي ریالیزم د سبک پیرو بولي. دوی په دې باور دي چې هغه په ځانگړي سبک خیالي شیان له حقیقي نړۍ سره تړلي دي. دوی تر ډېره د ژوزه اثار د گابرېل گارسیا مارکز له اثارو سره پرتله کوي چې هغه هم د جادویي ریالیزم لاروی و. دی په خپلو خبرو کې تاریخ راوړي، حقایق راوړي، په ټولنه کې بې عدالتیو او ناخوالو ته گوته نیسي، نیوکه ورباندې کوي، له سیاسي مسایلو سره ټکر کوي، له بېوزلۍ سره مبارزه کوي. کره کتونکي په دې باور دي چې هغه د مارکز او بارگاس یوسا په څېر لیکل کوي، خو دی په خپله بیا په دې باور دی چې پر اثارو یې تر ډېره گوگول او سروانټس اغېز پرې اېښی دی. د یادښت کتابچه، د فیل سفر، د مرگ ستاینه، لیدل، تکثیر شوی نارینه، ړندوالی، د نقاشۍ او خطاطۍ بنسټ، د ژوزه نور اثار دي چې د خلکو له هرکلي سره مخ شوي دي. خو تر ټولو ډېر د ړندوالي نول مشهور کړی دی.
ړندوالی د ژوزه مشهور کتاب دی. دا کتاب یې په ۱۹۹۵ کال کې خپور کړی دی. دا یو تمثیلي اثر دی، داسې اثر چې د زمان او مکان له محدودیت لرې یې د انساني ژوند ناخوالو ته کتنه کړې ده. دی په دې ناول کې دا ښیي چې لارورکي انسانان په روان سیاسي او ټولنیز وضعیت کې له کومو ناخوالو سره مخ دي او کومې چارې باید تر سره کړي چې په دې لار ورکۍ کې خپل مسیر پیدا کړي. د نقادانو په باور په دې ناول کې د ساراماگو د فکر او فلسفي ذهنیت ستر کشمکش دا دی، چې د معاصر انسان ناخوالې او ذهني کشمکشونه انځور کړي.
د ړندوالي ناول په زړه پورې او عالي بڼه لیکل شوی دی. په ښار کې د ړندېدو ناروغي خپرېږي. دا داسې ناروغي ده چې د اوسنۍ کرونا په څېر ساري ده. له یوه کس یې بل ته د تگ امکان شته دی. دا ناروغي له یوه بوډا سړي په ټول ښار کې خپرېږي او تر ټولو پورې رسېږي؛ خو یوه مېرمنه ده چې په استثنایي توگه له دې ناروغۍ بچ وي او یا ووایو چې نه ړندېږي. پاتې د ښار ټول خلک ړانده شي. په ناول کې د دې ټولو خلکو د ژوند سخت وضعیت انځور شوی دی. په اصل کې د لیکوال موخه له دې سمبولیک ناول دا ده چې په اوسنۍ یا معاصره ټولنه کې خلک څومره په ځان کې غرق دي. څومره فکر کوي چې په هر څه پوه دي، خو په حقیقت کې دوی پر ډېرو مهمو حقایقو سترگې پټوي او ړانده دي. لیکوال ټول هغه مسایل را اخیستي دي چې په ښار کې تر سره کېږي او ټول ورباندې ړانده کاڼه دي. په دې منځ کې د جوړې پاتې شوې ښځې وضعیت بیا تر ټولو خراب دی. هغه د ناخوالو له لیدلو دومره زړه تنگې او ناراضه ده چې هیله کوي دریغه دا هم ړنده وی. دا چې ټول خلک ړاندي دي، نو په بیغمه زړه هر ځای یې چې وغواړي، هره ناروا تر سره کوي، فکر کوي څوک مو نهویني؛ خو له ړندوالي پاتې شوې ښځې ته د ټولو انسانانو رښتینې څېرې ښکارېږي. دا ناول له لوستونکي دا غواړي چې ځان په وړو مسایلو کې بندي نه کړي. لوی افکار ولري او باید پر حقایقو ړوند نه وي. ددې تر څنگ دا هم ښیي چې که په یوه ټولنه کې ټول په یوه فکر روان وي، ټول ناسمې کړنې ترسره کوي، نو د هغه چا ژوند ډېر سخت دی، چې هغه حق لیدلی شي خو نور یې په خبرو باور نه کوي، نه غواړي حقایق ووینې او نه غواړي ددې جوړ کس له سترگو حقایقو ته وگوري.
بینایي یا لیدل یې بل مشهور ناول دی. دې دواړو ناولونو ژوره ساراماگو ته نړیوال شهرت ورکړ. یو ناول تر بل خلکو ته په زړه پورې و. همدا دواړه ناولونه سره یو ځای شول او ساراماگو ته یې نړیوال شهرت ورکړ. بینایي ناول په یوه ښار کې د ډېرو بینا یا هغو کسانو په اړه دی چې تر نورو یې د لید قوه پیاوړې ده. دلته کیسه په یوه ښار کې له ولسمشریزو ټاکنو پیلېږي. گوري چې خلکو ټولې سپینې رایې ورکړې دي. د حکومت تېرې خلک فکر کوي چې په دې ښار کې یې قدر نشته. له دې ښاره ځي خو بیا هم خلک هېڅ غبرگون نه ښیي، هېڅ پروا یې نه کوي. حکومت په جعلي چاودنو غواړي د خلکو پام ځان ته را واړوي او دا په ډاگه کړي چې گواکې حکومت مهم دی او که نه وي، نو خلک تباه کېږي. بیا یې هم خلک په کیسه کې نه کېږي. په ټوله کې د لیکوال هدف دا دی، چې نه ډېر ړندوالی د ټولنو په گټه دی او نه هم دومره بینایي چې انسان ورک کړي. ځکه په دې وخت کې هغه کسان چې ځان ډېر بینا بولي، هڅه کوي پر نورو حکومت وکړي.
په ټوله کې ژوزه په سمبولیکه ژبه خبرې کوي. هغه لوستونکي ته دا په ډاگه کوي چې شاوخوا یې له څومره وحشتونو ډکه ده. که یې خبره زده وه او د وخت واکمن یې خبره خوښه نه کړه، نو باید گنگی کړل شي. که یې سترگو کار کاوه او د وخت د حاکم ناخوالې او نیمگړتیاوې یې لیدې، نو سترگې یې ور ړندوي. واکمنان نه سترگه‌ور غواړي او نه ژبور. همدا مسئله ده چې ژوزه د ړندوالي او لیدلو په نومونو ناولونه لیکلي دي. په دې دواړو ناولونو کې یې تاریخ، سیاسي مسایل، ټولنیز مسایل او نور موارد راوړي دي.
ژوزه د دې اثارو تر لیکلو وروسته ښه مشهور شوی و، خو کله چې په ۱۹۹۸ کال کې د کتابونو په یوه نندارتون کې د گډون لپاره فرانکفورت ته روان و، نو یوه خبر حیران کړ. د نوبل بنسټ اعلان وکړ چې د دې کال د نوبل گټونکی یې ژوزه دی. دغه بنسټ په خپل پیغام کې ویلي وو چې ساراماگو له کنایو په ډکو الفاظو، په ټولنه کې د ناخوالو، تاریخي پېښو او مډرن شک په اړه زړه راښکونکې څرگندونې کړې دي. دوی د ژوزه د اثارو ستاینه کړې وه او هغه یې د بشریت په فرهنگي او ادبي تاریخ کې یوه گټوره اضافه بللې وه. په دې توگه نو ژوزره ساراماگو هغه لیکوال و، چې له مستریگرۍ او کارگرۍ د نوبل تر گټلو ورسېده. هغه جایزه چې زرگونه لیکوالان یې د گټلو او تر لاسه کولو هیله لري. ژوزه ساراماگو تر دېرشو ډېر اثار پنځولي او خپاره کړي دي. هغه د ژوند تر وروستیو کلونو لیکل کول. ده به ویل په دې پوهېږي چې د ژوند او عمر وروستي کلونه یې دي، خو لیکل کوي، هره ورځ په یوه نوې موضوع پسې گرځي او غواړي څه په میراث پرېږدي. د پرتگال دغه مشهور لیکوال تر کلونو لیکوالۍ او هڅو وروسته په ۲۰۱۰ کال کې د ورپېښې ناروغۍ له امله د ۸۷ کلونو په عمر ومړ.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۳ |
| € | ۹۲,۸۵ |
| Rp. | ٤۸۰ |
| ₹ | ۱۰۵۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰٤,۳ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# له نورو څخه دا هیلې مه کوئ!

ژباړه: حامد احمدزی

ځینې وخت له نورو هیلې لرو چې زموږ لپاره باید یو کار تر سره کړي یا زموږ په خوښه باید چلند وکړي. سمه ده، ځینې وختونه به زموږ دا غوښتې پر ځای وي، خو په ځینو وختونو کې بیا داسې یو څه ته په تمه کېدل په ژوند کې ناهیلۍ زیاتوي او هماغه ده چې له نورو سره خوابدي کیږو او پر نورو یو ډول منفي اغېز لري. په دې باید پوه شو چې هر څه نشو کولی کنټرول کړو او له نورو دې دا هیلې ولرو څو زموږ په خوښه ژوند وکړي. له نورو سره د ښو اړیکو لپاره باید دا زده کړو چې کومې تمې باید له نورو ونه لرو. په دې لیکنه کې مو هغو ټکو ته اشاره کړې چې په پرېښودو سره به یې یو بریالۍ کس و اوسو او خوشحاله ژوند به ولرو.

**۱ – هر وخت له نورو د موافقت تمه مه کوئ**

که له نورو دا تمه لرئ، هر هغه څه چې تاسو یې په ورځني ژوند کې وایي او نور دې درسره موافق وي، تېروتنه کوئ. هرڅوک خپل فکر او عقیده لري، هغه تمه چې موږ یې ترې لرو څو زموږ په خوښه دې خبرې وکړي یا دې زموږ خبرې تایید کړي، بېځایه غوښتنه ده. تاسو کولی شئ د معلوماتو او حقایقو په وړاندې کولو سره نورو ته د قناعت ورکولو هڅه وکړئ، خو دا فکر مو له سره وباسئ چې نور دې تل ستاسو له خبرو او فکر سره موافق وي.

**۲ - کله چې ملامت وئ، له نورو د قدر تمه مه کوئ**

تاسو نشئ کولی د ځان پر وړاندې د نورو د چلند ډول وټاکئ، تر هرڅه مهمه ده چې تاسې لومړی خپل ځان ته ارزښت ورکړئ او بیا له نورو د ورته چلند هیله ولرئ. موږ ټول کله ناکله غلطي کوو، له ستونزو سره مخ کیږو، پښېمانه کیږو، خو له دې ټولو سره سره باید د خپل ځان پرِه پر بل وانه چوو. د خپل ژوند د بدلولو ځواک او اراده ولرو؛ نو ښه ده چې خپل ځان ته ارزښت ورکړئ او خپلې وړتیاوې وګورئ، څو تاسو له نورو د هغه چلند تمه چې تاسې یې ترې لرئ، له تاسو سره وکړي.

**۳ - که د ځان درناوی غواړئ، د نورو درناوی وکړئ**

درناوی خپله له زموږ څخه پیلیږي. که غواړئ چې یو د درناوي وړ شخص و اوسئ، لومړی خپل ځان ته په درنښت قایل شئ، یانې داسې ژوند وکړئ چې خپل ځان ته په باور ښودلو سره له نورو سره داسې چلند وکړئ، څو پوه شئ چې تاسې ته د خپل عمل بدله درکول کیږي.

کله مو چې له خپل ځان او نور سره چلند سم کړ، هماغه ده چې نور به هم تاسو ته درناوی ولري.

**۴ - هېڅکله له نورو د لارې ښودو تمه مه کوئ**

که غواړئ چې په ټولنه کې یو باوري کس و اوسئ او د داخلي جوړښتونو له مخې خپله شاوخوا لاره پیدا کړئ، نو له نورو د دې تمه مه لرئ، څو تاسو ته ووایي چې څه غواړئ. هیلې باید لومړی ستاسو په داخل کې را ژوندۍ شي. غیر فعاله توکي یو لوري ته کړئ او د خپلو نظرونو ملاتړ وکړئ، څو پوه شئ چې څه غواړئ او ولې یې غواړئ. دا کار هېڅوک ستاسو لپاره نشي کولی.

**۵- هغه کسان چې نه غواړي ستاسې خوا کې پاتې شي، د پاتې کېدو سات ورته مه کوئ**

ځینې خلک ستاسو ژوند ته داخلیږي او پاتې کیږي، خو زیاتره خلک مو ژوند ته داخلیږي، خو بیرته وځي. هغه کسان نور پریږدئ چې غواړي له تاسو لرې و اوسي. هغوی چې له تاسو سره پاتې کیږي، هغه کسان دي چې غواړي د خوشحالۍ او خپګان په وختونو کې له تاسو سره و اوسي. دا ډول کسان ستاسو په ژوند کې له ارزښتمنو خلکو څخه دي.

**٦- له نورو د خپل فکر او نظر د درک ګیله مه کوئ**

کله چې تاسو نشی کولی خپل فکر څرګند کړی، نو له نورو باید دا تمه ونه لرئ څو هغوی پر دې پوه شي چې تاسې څه ډول فکر کوی. د خپلو افکارو درک کول د هغه څه په پام کې نیولو په پرتله خورا مهم دي چې نور یې فکر کوي. لومړی له ځان سره ووایئ چې د څه په اړه فکر کوی، څنګه حس لرئ او څه غواړئ څو له ځان سره رښتیني و اوسئ؟ له هغه وروسته کولی شئ خپل فکرونه، احساسات او غوښتنې له نورو سره شریکې کړئ.

**۷ - که خپله کومه شیمه ونه لرئ، له نورو د ستونزې د حل غوښتنه مه کوئ**

دا مهمه نه ده څو پر دې پوه شو چې ستونزې څنګه حل کړو، مهمه دا ده چې موږ باید د خپلو ستونزو په خاطر نور ملامت نه کړو. کله چې موږ د خپلو ستونزو په خاطر نور ملامتوو یا په دې تمه وو چې زموږ ستونزې حل کړي، نو موږ نشو کولی چې خپلو وړتیاوو ته وده ورکړو. کله چې موږ دا تمه ولرو چې نور خلک مو ستونزې را حل کړي، دا، دا مانا لري چې موږ خپل قدرت او واکونه نورو ته سپارو.

**۸- تر هرڅه مخکې خپل ځان ته ارزښت ورکړئ**

کله چې خپل ځان ته په ارزښت نه وی قایل او له خپل ځانه دفاع ونشی کړی، ډېر ژر به خپل ځان کوچنی او بې ارزښته کړی او دا پیغام نورو ته ورکوی چې خپل ځان درته بې ارزښته دی، نو ښه ده چې لومړی باید له خپل ځان سره ارزښتمندانه چلند وکړئ، څو نور هم درسره ورته چلند وکړي.

**۹ - کله چې خپل ځان ته ښښنه نشی کولی، له نور د ښښنې تمه مه کوئ**

کله چې له نورو د ښښنې په تمه وی، خو تر هغه مو خپل ځان نه وي ښښلی، هېڅکله دا تمه مه کوئ چې نور به مو وښښي. دا زده کړئ چې ښښنه لومړی له خپل ځانه شروع کیږي، څو نور خلک تاسو وښښي او تاسو هم هغوی وښښئ.

**۱۰- هېڅ وخت له نورو د ستاینې تمه مه کوئ**

امکان لري چې ځینې وختونه نور تاسو وستایي او یا مو هم ونه ستایي. تاسو نشی کولی چې د دوی پر ستاینه باندې تکیه وکړئ. که تاسو د نورو لپاره د خپل کار د ارزښت تعریفولو لپاره ښه کارونه کوی، نو د نا امیدۍ لپاره چمتو اوسئ.

کله چې تاسو د داخلي ډاډ تر لاسه کولو لپاره یو څه کوی، نو یو ښه احساس به ولری.

کله چې په یوه ښه لاره قدم ږدی او خپل منفي احساسات مو له منځه وړی یا هم له نورو سره په مینه او مهربانۍ چلند کوی، نو خپل ځان مو ستایلی دی. دا مهمه نه ده چې نور به څه فکر کوي. څه شی چې اهمیت لري، هغه دا دي چې خپله د خپل ځان په اړه څه ډول فکر کوی. له خپل ځان سره خبرې وکړئ او د هڅونې او ځواک ورکولو مهارتونه وکاروئ. دا کار به د دې لامل شي چې د ځان په اړه به ډېر لوی اعتبار تر لاسه کړی.

**۱۱- هېڅ وخت له نورو د هڅونې تمه مه کوئ**

هیڅوک نشي کولی چې تل دې تاسو وهڅوي، ځینې وخت به بد حال لری او خپه به وی، خو یو ملګری مو کولی شي ستاسو حالت بدل کړي، خو دا نشي کولی چې تاسو دې ته وهڅوي چې له ژونده خوند واخلی. خپله تاسو یاست چې د خپل ځان لپاره اهداف ټاکی او ورته د رسېدو لپاره هڅې کوی.

هغه اهداف چې تاسو یې ټاکی باید ډېر مشخص وي، څو تاسو هغه لوري ته جذب کړي، چې ستاسو لپاره ارزښت لري. د هغه څه په لټه کې اوسئ چې ژوند مو مثبت لوري ته بیایي.

**۱۲- له نورو دا تمه مه کوئ، چې هر وخت دې تاسو درک کړي**

هیڅوک ستاسو په څېر نه دي راپورته شوي، ستاسو په ځای کې نه دي او ستاسو په ځای کې ژوند نه کوي. نو ښه ده چې له نورو دا تمه ونه کړئ چې تاسو دې په پوره مانا درک کړي. ځینې کسان کولی شي چې ډېرې نږدې اړیکې در سره وپالي، په داسې حال کې چې نور ممکن حتی په هغه څه نه پوهیږي چې تاسو یې په اړه خبرې کوی.

# کډوالو وزارت: په کندهار کې د وروستیو جګړو له کبله ۱۲ زره کورنۍ بې ځایه شوي

کډوالو چارو وزارت وایي چې په کندهار کې د وروستیو جګړو له امله نږدې ۱۲ زره کورنۍ له خپلو سیمو بېځایه شوې دي. د یاد وزارت د ویاند مرستیال رضاء باهر ویلي چې یادې کورنۍ په ارغنداب، میوند، ژړۍ او پنجوایي ولسوالیو کې د جګړو له امله بېځایه شوې دي.

نوموړي زیاته کړې چې د دوی د معلوماتو په اساس له یادو کورنیو څخه یوازې ۲زره یې کندهار ښار ته کډوال شوي او پاتې نور د دغو ولسوالیو نورو سیمو تللي دي.

هغه ویلي: «شاوخوا ۱۲ زره کورنۍ بېځایه شوې دي، دغه کورنۍ د وروستیو جګړو له امله د خپلو کورنو څخه بېځایه شوې دي... د ولسوالیو داسې سیمو ته تللي، چې فعلاً اوس هم هلته جګړه جریان لري. د جګړې له امله په دغه سیمو کې له بېځایه شوو کورنیو سره د مرستې کول ستونزمن دي.»

کډوالو چارو وزارت زیاته کړې چې په یادو سیمو کې بېځایه شوې کورنۍ د ژمي سړې هوا له امله لازمو مرستو ته اړتیا لري چې په وینا یې، د ناامنیو له امله د مرستو رسول ورته ستونزمن دي. د سرچینې په خبره: «زموږ اندېښنه دا ده چې په داسې شرایطو کې له کډوالو سره مرسته نه کیږي او کډوال د لا ډېر خطر سره مخامخ کیږي.»

خو د یاد وزارت د ویاند مرستیال رضا باهر امریکا غږ ته ویلي چې کندهار ښار ته د دوه زره راکډوال شوو کورنیو سره د سرې میاشتې او حکومت لخوا مرستې شوې دي.

د یادونې ده چې له تېرو نږدې درې میاشتو راپه دې خوا د کندهار ولایت په یادو ولسوالیو کې جګړې پیل شوې، چې د چارواکو په وینا، اوس هم په ځینو سیمو کې جریان لري. د سیمه‌ییزو چارواکو په خبره، تر ټولو زیاتې کورنۍ د کندهار له ارغنداب ولسوالۍ څخه بېځایه شوې دي. بلخوا د کډوالو چارو وزارت مرستیال ویاند همدارنګه ویلي چې په هلمند ولایت کې هم د وروستیو جګړو له امله ۸زره کورنۍ لښکرګاه ښار ته بېځایه شوې دي. یاد وزارت وایي چې په مرکز لښکرګاه کې د کډوالو لپاره یو کمپ هم جوړ شوی دی.

# <u>وکیلان:</u> تر هغې چې په مالي بودجه کې عدالت رانه شي، د تایید رایه نه ورکوو

د ولسي جرګې یو شمېر غړي وایي، لا هم د مالي بودجې په سند کې جدي ستونزې شته او هغه بدلونونه چې دوی یې وړاندیز کړی و، په پام کې نه دي نیول شوي. وکیلانو د تېرې ورځې په عمومي غونډه کې په دغه سند چې د دربیم ځل لپاره جرګې ته لېږل شوی و، سختې نیوکې وکړې.

د یادونې ده چې دا سند لومړی ځل د جنورۍ په دویمه د جرګې له خوا رد شو او اوس چې له میاشت زیات وخت پرې اوړي، لانجه یې لاهم نه ده ختمه شوې. افغان حکومت د ولسي جرګې لهخوا له دوه ځلي رد وروسته د ملي بودجې سند د دربیم ځل لپاره ولسي جرګې ته لېږلی دی، خو د ولسي جرګې یو شمېر غړي بیا وایي، هغه بدلونونه یې چې په دویم سند کې غوښتي وو، په دربیم سند کې هم پر خپل ځای دي او ورته پام نه‌دی شوی. د ولسي جرګې لومړی مرستیال محمد مېرزا کټوازی وایي: «د ۱۴۰۰ مالي کال د بودجې سند د شنبې په ورځ ولسي جرګې ته رسېدلی دی، دغه سند له تېر رد شوي سند سره کوم توپیر نه‌لري، په دربیمه مسوده کې د دولتي کارکوونکو د معاشونو د زیاتوالي په اړه د دویمې مسودې په پرتله هېڅ بدلون نه دی راغلی، هغه پروژې چې تدارکاتي چارې یې تر ډېره مخکې تللي، بیا هم د بودجې په دربیمه مسوده کې نه دي ځای پر ځای شوي.» د ولسي جرګې بل غړی کریم اتل وایي، له عدالت پرته به دوی بودجې ته د تایید رایه ور نه کړي. اتل زیاته کړې: «کله چې په بودجه کې عدالت تامین شو او د ولس غوښتنې پکې ومنل شوې، له هغې وروسته باید وکیل صاحبان بودجه تصویب کړي. نه د شخصي ګټو په خاطر.»

د بودجې د دوه ځلي رد عمده لاملونه د دولتي مامورینو د معاشونو نه یو شان والی، د ۹۱، ۹۲ او ۲۲ کوډونو په بودجه کې کمښت، د هغو ادارو د بودجې کمښت چې ولسي جرګې نه دي تایید کړي او د ملي دسترخوان د بودجې رد و، خو د افغانستان د مالیې وزارت بیا وایي، د ولسي جرګې ټول وړاندیزونه یې د بودجې په دربیم سند کې ځای پر ځای کړي. د دغه وزارت له لوري په خپره شوې خپرپاڼه کې ویل شوي، چې د دولتي کارکوونکو د معاشونو د زیاتوالي په موخه ۱.۷ میلیارده افغانۍ ځانګړې شوي چې د بودجې او اداري اصلاحاتو د کمېسیون د اصول پاڼې له مخې به تطبیق شي. د دې خبرپاڼې په حواله، د دولتي کارکوونکو د معاشونو د زیاتېدو طرحه به د روان مالي کال تر نیمایي پورې بشپړه او کابینې ته وړاندې شي. د مالیې وزارت په خبرپانه کې ویل شوي، چې د ملي دسترخوان پروګرام بودجه په دربیم سند کې رد شوې او دغه‌شان د ۲۲ کوډ څخه هم ۱،۵ میلیارده افغانۍ کمې شوې دي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

WAYGAL
PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

سه شنبه د ۱۳۹۹ د سلواغي ۲۱مه | د ۲۰۲۱ د فبروري نهمه | ٦۷۸یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۷ | ۲۰ | ۱۵ | ۲۱ | ۲۵ | ۱۲ |
| ۰ | ۳ | ۵ | ۱۱ | ۸ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۱ | لمر ختل ۰٦:٤٥ | ماسپښین ۱۲:۰۸ | مازیګر ۰۳:۵۲ | ماښام ۰۵:۳۱ | ماخوستن ۰٦:۵٦


## نړۍ



**بایډن: که ایران مو شرطونه ومني، د ۲۰۱۵ز کال له شوي اټومي تړون سره یوځای کېږو**

۳

## تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا د اخته کسانو شمېر له ۱۰٦میلیونه او ۷۵۲ زرو اوښتی



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۰٦میلیونه او ۷۵۲ زره او ۷۰۷ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ۳۲۸زره او ۸۰۷ کسان مړه شوي او له ۷۸ میلیونو ډېر تريې ببرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۷ میلیونه او ٦۱۱ زره او ۴۰۳ ته رسېدلي او ۴۷۴ زره او ۹۳۳ نور امریکایان تريې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او ۸۳۸ زره او ۸۴۳مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د نهه میلیونه او ۵۲۴ زره او ٦۴۰مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریېم، روسیه د دري میلیونه او ۹۸۳ زره او۱۹۷ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او برېټانیا د درې میلیونه او ۹۴۵ زره او ٦۸۰ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

فرانسه، هسپانیا، ایټالیا، ترکیه او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## راپورونه: په هند کې د سختو سېلابونو راوتلو له کبله ۱۴ کسان مړه شوي او لسګونه نور نادرکه دي

د هند په اتاراخاند ایالت کې د سېلابونو را وتلو له امله ۱۴ کسان مړه شوي او له ۱۷۰ ډېر نور نادرکه دي. د اسوشیټېډ پرېس اژانس د راپور له مخې، سېلابونه د همالیا غرونو د طبیعي کنګلونو د یوې برخې د نړېدو له امله راوتلي دي.

په سیمه کې د هند د سرحدي پولیسو ویاند اسوشیټېډ پرېس خبري اژانس ته ویلي چې د یاد کنګل تر ویلي کېدو وروسته په سیمه کې د برېښنا د تولید یوه تر کار لاندې پروژه او د برېښنا یوه بله دستګاه تخریب شوې ده.

یاد اژانس ویلي چې د پولیسو او پوځ د سرتېرو په ګډون ۲۰۰۰ تنو د ژغورنې عملیات پیل کړي دي. نوموړي زیاته کړې، چې د برېښنا د یوې پروژې په تونل کې ۴۲ تنه کارکوونکي بند وو، چې ۱۲ تنه یې ژغورل شوي او د پاتې کسانو د ژغورلو هڅې هم روانې دي. د چارواکو په وینا د ختو او خاورو راوتلو له امله ګڼ کورونه او پلونه هم زیانمن شوي دي.

چارواکو دغه راز د سیمو نورو خلکو ته هم په نږدې راتلونکي کې د احتمالي خطرونو په اړه خبرداری ورکړی او سلګونه نورې کورنۍ د خپلو مېنو پرېښودو ته اړ شوي دي.

## لوی څارنوالی: سه کارمند وزارت صحت عامه به اتهام گرفتن ۸۰ هزار دالر رشوه به زندان محکوم شده‌اند



لوی څارنوالی افغانستان می گوید که سه کارمند وزارت صحت به اتهام گرفتن ۸۰ هزار دالر رشوه به زندان محکوم شده‌اند.

لوی څارنوالی با نشر خبرنامه‌یی می‌گوید که غلام سخی نظر، سرپرست آمریت ذخیره‌گاه مرکزی و غلام‌مصطفی، مدیر گزارش رسید ذخیره گاه مرکزی هر یک به پنج – پنج سال زندان محکوم شده‌اند.

در این خبرنامه آمده است که هم‌چنان احمدفواد، معتمد فنی آمریت ذخیره‌گاه مرکزی به سه سال زندان تنفیذی محکوم به مجازات شده است. این حکم در نشست علنی محکمه استیناف مرکز عدلی و قضایی رسیده‌گی به جرایم سنگین فساد اداری، صادر شده است.


در این خبرنامه همچنان آمده است: «محکمه هر سه آنان را به انفصال از وظیفه و پرداخت ۸۰ هزار دالر امریکایی وجه معادل مطالبه رشوت طور تضامن، محکوم کرد.»

خبرنامه می‌افزاید که هیأت جلسهٔ قضایی دادگاه استیناف مرکز عدلی و قضایی رسیده‌گی به جرایم سنگین فساد اداری اجمل عسکرزاده، عضو هیأت تشریح، محمود نوابی، مدیر معاینه و فضل‌شاه قریشی هیأت معاینه و تشریح ذخیره‌گاه مرکزی وزارت صحت را برائت داده است.

قابل یادآوریست که معتمد ذخیره‌گاه مرکزی وزارت صحت به تاریخ سوم سرطان امسال به اتهام گرفتن ۸۰ هزار دالر رشوه، از سوی لوی څارنوالی بازداشت شده بود.


## ژوند

### ګلکسي اې۵۲ کومې ځانګړنې لري؟



سامسُنګ کمپنۍ غواړي د ګلکسي اې۵۱ تر بریا وروسته د دې لړۍ نوی او پرمختللی ځیرک موبایل معرفي کړي، چې اوس د دغه ځیرک موبایل ځینې ځانګړنې افشا شوې دي. افشا شوي معلومات ښيي چې ګلکسي اې۵۲ به ٦,۵ انچه اولېډ ډوله مخپاڼه ولري او د ګوتې نښې سېنسر هم د مخپاڼې لاندې ځای‌پرځای شوی دی. دغه ځیرک موبایل په شاتنۍ برخه کې څلور کامرې لري چې اصلي کامره يې ٦۴ مېګاپکسله وړتیا لري. د نورو کامرو ښې او وړتیا په اړه يې څه نه دي ویل شوي. ګلکسي ایس۵۲ چې له ۵جي ټکنالوژۍ څخه ملاتړ کوي، د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن ۷۵۰جي ډوله پروسېسر او ٦ یا ۸ ګیګابایټ رم سره خرڅلاو ته وړاندې کېږي. دغه ځیرک موبایل به ۴۵۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ ولري. د ګلکسي اې۵۲ بیې او وړاندې کېدو نېټې په اړه څه نه دي ویل شوي، خو ګلکسي اې لړۍ د سامسُنګ کمپنۍ غوره ځانګړنې او مناسبه بیه لرونکي ځیرک موبایلونه دي، چې له همدې امله يې شمېره مینه‌وال لري.

### وړې خوښۍ او لویې اغېزې



له خپلو ماشومانو سره لوبې وکړئ، یوه ځانګړې ورځ له خپلو خپلوانو سره او یو ساعت خوښي مو له نږدې ملګرو سره شریکه کړئ. د ژوند پېژندنې له نظره موږ ښو اړیکو او خپلوۍ ته اړتیا لرو. مطالعو څرګنده کړې ده؛ هغه کسان چې له خپلو خپلوانو، ملګرو او کورنۍ سره ښې اړیکې پالي، د نورو په پرتله ډېر خوشاله وي. مهمه نه ده چې دغه اړیکې دې تل د مخامخ لیدنو په بڼه وي؛ ځینې وخت ټلېفوني اړیکه ټول هغه څه دي چې تاسو ورته اړتیا لرئ. دغه راز څېړنو ښودلې ده چې په طبیعت کې د وخت تېرول د سټرېس هورمون د سطحې د کموالي په ګډون، ډېرې روغتیایي ګټې لري. له خپل کوره ووځئ، یوې شنې فضا ته لاړ شئ، روانو اوبو ته وګورئ، غرونو، ونو، ګلونو، طبیعت او هر هغه څه ته چې په طبیعت کې مینه ورسره لرئ، وګورئ. دغه کوچنۍ خوښۍ کولای شي ستاسو پر ژوند لویې اغېزې وکړي، روغتیا مو ور سره ښه شي، انګېزه درکړي او پرمختګ ته مو وهڅوي.

STUDENT'S
ACCOUNT



د زده کونکو/زده کړیالانو جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې خپل ځانګړی محصول "د زده کونکو جاري حساب" په لاره اچولی چې د افغانستان د زده کونکو لپاره ځانګړې ډالۍ ګڼل کېږي. نوموړی حساب زده کونکو/زده کړیالانو ته د وړیا ای تي ام کارت او په کلنۍ فیس کې د ماسټر ډېټ کارت تخفیف سره چمتو شوی دی.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank